د ,,سولې هڅه‘‘ د مجلې نه
د سر محقق عبدالله بختانی خدمتګار لیکنه

# د تخلصونو په باره کښې

ماشوم چې له موره وزیږي، نو بیا کورنۍ د هغه د نامه په فکر کښې شي. زیاتره د ماشوم د زیږیدو په دریمه ورځ، ملا امام یا بل پرهیزګار مشر، د هغه په غوږونو کښې آذان وایي او نوم ورباندې ږدي. دغه اصلي نوم ته په عربي تعبیر(اسم محضه)او په اروپایي دود( لومړنی نوم)وایي.
کله چې ماشوم لوی شي او د ژوندانه او د کار و بار ډګر ته راووځي، بیا ځینو ته د ژوندانه د ضرورتونو له مخې د دوهم او کله لا هم د دریم نوم د موندلو او ټاکلو فکر پیدا کیږي. دا نوم زیاتره نسبتي وي چې ځینې کسان ځان خپل پلار، نیکه، غور نیکه یا لوړو نیکونو ته منسوبوي. دې ته کورنی نوم یا فامیلي نوم هم وایي. لکه: حبیبي، واسعي، زماني، صدیقي، هاشمي، حسیني، مجددي او نور ...... د نوې زمانې مود او دود دا دی چې ځینې کسان یوازې د خپلې کورنۍ د مشر د نامه یوه برخه، یا د هغه تخلص د خپل لومړني نوم پسې زیاتوي او نسبتي (ی) پسې سر نه ګرزوي. لکه عبدالبهاری رشید، عزیز الرحمن الفت، الله نور سیلاب او نور... کله بیا قوم او قبیلې یا ملت ته ځان منسوبوي او د هغو نوم ځان ته د تخلص په توګه کاروي. لکه: مهمند، ساپی، ځدران، ګربز، منګل، شینواری، خوږیانی، کاکړ، هوتك، خټك، غرغښت، سړبن، پښتون، افغان او نور....ځینې بیا ځایونو، کلیو، ښارونو، او هیوادونوپه نومونو پورې د نسبتي (ی) یا نورو نسبتي اداتو په لګولو خپل تخلص جوړوي. لکه: بخاري، ترمزي، نسايي، سجستاني، (سیستاني)، بلخي، هروي، دهلوي، حجازي، کابلي، قندهاري، ننګرهاري، پکتیاني، بختاني، میوندوال، کامه وال او نور.... کله بیا د دیني، مذهبي، تصوفي، مسلکي، منسوبیت په اساس وي. لکه قادري، نقشبندي، روښاني، مجددي، او نور....
شاعران، لیکوالان او مؤلفان تر هر چا زیات تخلص ته ضرورت احساسوي ځکه چې په هره ټولنه کښې د ډیرو کسانو لومړني نومونه یو راز او تکراري وي نو ددې لپاره چې د مؤلف، لیکوال او شاعر اثر د بل همنومی له اثر څخه بیل او و پیژندل شي هر یو ځان ته دوهم نوم ټاکي. دا نوم لکه چې وویل شو، یا فامیل، قوم او اوسیدو ځای ته منسوب وي، یا د شخص د خپل لومړنی نوم یوه برخه د تخلص په توګه کاروي، لکه رحمان، حمید، رحیم، یونس، بیاض، ناصر، حنیف او نور.... د عبد الرحمن، عبدالحمید، عبد الرحیم، محمد یونس، محمد بیاض، محمد ناصر او محمد حنیف پر ځای. د (تخلص) لغوي معنا هم خلص کول یا لنډول دي. نو همدا ډول تخلصونه، د کلمې په معنا، تخلصونه دي چې ځینې پښتانه لیکوال یې (لنډ نومونه) هم بولي.

له تېرو زمانو څخه تر اوسه پورې د عربي فارسي، پښتو، اردو... شاعران یا قومي او محلي دویم نومونه لري او یا یې یوه معنا داره کلمه، د خپل حا ل، فکر او احساس سره په تناسب کښې، د ځان لپاره د تخلص په توګه ټاکلې ده: لکه: سعدي،حافظ، بیدل، غالب شیدا، بهار، بیتاب، بسمل، مستغني، غبار، ګویا، خادم، الفت، کهزاد، رشتیا، رشتین، بینوا، سعید، اخلاص، جرار، پژواك، جاوید، غمخور، ژوبل، پسرلی، صداقت، هدایت، شفیق، کوثر، سمندر، محب، الهام، تړی، فدا، ضمیر، خزان، زیار، سایل، خدمتکار او نور.....

که د دوو یا زیاتو کسانو لومړني یا اصلي یا محضه نومونه یو راز هم وي بیا نو د دوهم نوم او تخلص په ټاکلو د همغو کسانو پیژندنه اسانیږي، د هغو آثار یو تر بله بیلیږي او د یوه اثر بل ته د منسوبولو ګډوډي نه پیښیږي.

د همدغه عیني ضرورت له مخه، چې د یو اثر د بل و نه ګڼل شي، او لوستونکي، اوریدونکي او د شعر او ادب، هنر او فرهنګ نقادان، مؤرخان او څېړندویان په ځینو څېړنو کښې له تیروتنو سره مخامخ نشي. پوهانو، ادیبانو او فرهنګیالانو تل هڅه کړې ده چې ځان ته یو داسې تخلص و ټاکي چې هغه د بل چا نه وي.

مګر اوسنیو یو شمیر لیکوالو او شاعرانو، دا دود نه دی ساتلی او د داب او ادب د آدابو پولې یې ماتې کړې دي او ډېرو نورو ځوانانو، یا له بیخبری، یا له بې تفاوتی څخه، د لویو استادانو شاعرانو ادیبانو تخلصونه اخستي دي.

نو که یو ځوان لیکوال او شاعر د سیمې او یا لږ تر لږه د هیواد په ادبیاتو کښې پراخه مطالعه و نه لري او د اوسنیو او پخوانیو لیکوالو شاعرانو نومونه او تخلصونه ورته معلوم نه وي، بیانو کیدای شي چې پخو تجربه لرونکو پوهانو استادانو ته مراجعه وکړي او د تخلص په ټاکلو کښې ترینه مرسته و غواړي.

همدارنګه، څومره چې زما یادیږي، د مطبوعاتو مستقل ریاست، چې وروسته ( د مطبوعاتو وزارت) ترې جوړ شو او اوس (د اطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوی وزارت) په نامه یادیږي، تل ددې ادبي فرهنګي موضوع خیا ل ساتلی دی چې څوك د بل چا تخلص وانخلي او په ادبي څېړنو، پلټنو او پیژندنو کښې د ګډوډی سبب نشي او که چیرې د تخلص په سر د دوو تنو تر منځ ادعا یا دعوا یا شخړه پیدا شوې ده، بیا نو مطبوعاتو هغه چا ته حق ورکړی دی چې په ټاکلي تخلص د آثارو د چاپ او خپریدو د نیټې قدامت یې ثابت شوی وي.

مګر د افسوس خبره ده چې اوس اوس په لره بره او جنوبي پښتونخوا کښې، ځینو لیکوالو، شاعرانویوازې د خپلو همزولو نه، بلکه د ډېرو لویو مخکښو سابقه لرونکو مشهورو نومورو لیکوالو، مؤلفانو ادیبانو تخلصونه خپل کړي دي او دې سره د ډېر افسوس بله خبره داده چې د خپرنیو ذریعو، راډیوګانو، تلویزیونونو، ورځپاڼو، جریدو او مجلو چلونکي او خپرونکي هم دې مسئلې ته پام نه

اړوي، چا ته مشوره نه ورکوي او له ډېرې بې تفاوتۍ او بې پروايئ سره د ځوانو قلموالو له لار ښووونې څخه ډډه کوي.

که د بیتاب، بسمل، خادم، الفت، مجروح، رښتین، بینوا او اجمل غوندې د مشهورو ادبي ستورو تخلصونه، نا خبره کسان ځانته و ټاکي، د خپرونو مسؤل چلونکي خو پوهېږي او څېړنيز فرهنګي ناوړه عواقب يې هم احساسولی او سنجولی شي.

هو! د يو علمي ادبي شخصيت د کورنۍ نژدې غړي حق لري چې د خپل مشر تخلص د خپل نامه څخه وروسته و ليکي. خو پدې شرط چې که دوی بيا ليکوالي او شاعري کوي، نو د خپل اثر د چاپولو او خپرولو لپاره بايد خپل لومړنی نوم ضرور و ليکي او يواځې په تخلص بسنه ونه کړي. مثلاً هغه آثار چې د خپرنيو وسيلو په پاڼو يا څپو کښې يوازې د (الفت) يا (پژواك) له تخلصونو سره خپاره شوي دي، هغه ضرور د استاد ګل پا چا (الفت) او د استاد عبد الرحمان (پژواك) آثار دي.

مګر که د استاد الفت زوی، ډاکتر عبد الرحمن الفت، يا د استاد پژواك ورور استاد عتيق الله پژواك څه ليکي او چاپوي، بايد خپل لومړنی نوم هم ورسره وليکي، نه يوازې(الفت)او (پژواك). دا کار د استاد الفت مشر زوی مرحوم عزيز الرحمن الفت لا پخوا کړی‌دی‌او د نوموړي استاد نور زامن او لمسيان او د استاد پژواك ورونه او وريرونو، هم دغسې کړي دي او کوي يې ځکه چې دا يو ادبي فرهنګي ضرورت دی.

پاس د عبدالرحمن الفت نوم ياد شو. هغه د استاد الفت يو دانشمند ليکوا ل او مؤلف زوی دی چې په سعودي عربستان کښې اوسي او هلته يې مهمې علمي وظيفې تر سره کړي دي او د پوهنتون د استاذۍ، وياړ لري، مګر يو بل محترم شخص چې په جلال آباد کښې د کومې موسسې مشر دی، هم عبد الرحمن نوميږي او خپل نامه سره (الفت) ليکي. دا دکوم دليل، استحقاق او ضرورت له مخه؟ په لومړی ځل چې ما له راډيو څخه، د دې ښاغلي د کوم فعاليت خبر واوريدو، نو په زړه کښې مې وويل چې ځه له خيره سره استاد عبدالرحمن الفت له عربستان څخه راغی او..... نو د هغه په لټه په پوښتنو ګرويزنو او تيلفونونو سر شوم.... اوس هم چې داسې کوم خبر واورم نو تر هغه پورې چې سر ته مې سد راشي، ورته حيران شم او په زړه کښې د هغه شينواري کا کا ښيرا تکراروم چې ((خدای دې همدغسې حيران کړه لکه زه دې چې حيران کړم!)) او په فکر کښې ډوب شم چې د استاد الفت د زوی استاد عبدالرحمن او زموږ د دې بل ښاغلي وطنوال ورور توپير به څنګه وشي؟

دا لا څه چې له (آزادئ راډيو)څخه د ((امين الفت))په نامه د کوم هنرمند په خوږه غږ کښې ټپې او سندرې اوريدل شوي دي. په داسې حا ل کښې چې ډاکټر امين الرحمن الفت د استاد ګل پا چا الفت بل زوی دی او اوس په جرمني کښې د طب د ماهر ډاکټر په توګه کار کوي او هغه هيڅېرې هم سندر غاړی نه و او نه دی. دا ولې؟

دلته یوه بله یادونه باید وشي هغه دا چې د نړیوا ل فرهنګي دود له مخه له ډېرو پخوانیو زمانو څخه، د لویو روحانیونو، علماؤ، پوهانو، لیکوالو، شاعرانو او فرهنګي یا ټولنیزو او ملي شخصیتونو په نامه، د هغو د شخصیت د ابعادو په تناسب ځینې مهمې موسسې، زیاتره مدرسې ، پوهنځي، کتابخونې، فرهنګي ادارې او خپرونې نومول شوي او نومول کیږي لکه:

په تیرو زمانو کښې د بغداد نظامیه مدرسه.

د مسکو لومړنی دولتي پوهنتون، د هغه د دانشمند موسس لومونو سوف په نامه.

په کابل کښې«سراج الاخبار» او د «حبیبیې لیسه» د سراج الملة و الدین امیر حبیب الله په نامه.

د ننګرهار په هډه کښې د نجم المدارس دیني مدرسه، د هډې د مولا نا نجم الدین اخونزاده په نامه.

په کابل کښې د ابن سینا روغتون، د لوی دانشمند حکیم شیخ الرئیس ابو علي ابن سینا په نامه.

د لغمان روښان لیسه، د ستر روحاني ټولنیز شخصیت بایزید روښان په نامه.

د ننګرهار د کوز کونړ د ښېوې جمالي لیسه او د کابل پوهنتون د کتابخونې د مطالعې تالار د ختیز د سیاسي مفکر علامه سید جما ل الدین افغاني په نامه.

د پیښور په ښار کښې « د با چا خان چوک»د فخر افغان خان عبدالغفار خان په نامه.

په ذکر شوي ښار کښې« نشتر حا ل» د کنفرانسونو تالا د عبدالرب نشتر په نامه.

په لغملن کښې د الفت اکاډمي، د الفت فرهنګي ټولنه او د الفت لیسه له پیښور څخه خپریدونکي مجله «الفت» د استاد ګل پا چا الفت په نامه.

په کندهار کښې «بینوا فرهنګي ټولنه» د استاد عبد الرؤف بینوا په نامه.

په کابل کښې «د رشاد د کره کتنې ټولنه» د کابل په ګرامیو کښې « د علامه رشاد ښوونځی» په کابل کښې«رشاد »مجله، د اکادمیسن عبد الشکور رشاد په نامه.

په کابل کښې د پژواك د خپرونو آژانس د استاد عبد الرحمن پژواك په نامه.

د ننګرهار په بهسودو کښې« د ملنګ جان فرهنګي ټولنه» او په جلال آباد کښې« ملنګ جان مجله» د ملي اولسي شاعر ملنګ جان په نامه.

په کابل کښې د استاد صوفي عبد الحق بیتاب، استاد قاري عبد الله ملك الشعرأ، استاد محمود طرزي، استاد عبد الهادي داوي او نورو فرهنګي رجالو په نومونو لیسې او تعلیمي ادارې.

دا پاس ټول نومونه او نومونې په خپل خپل ځای کښې پوره تناسب لري او په ټول هیواد کښې، د دې په شان نورې نومونې، د لویو شخصیتونو د نمانځنې او قدر دانۍ ډیرې ښې بیلګې دي.

مګر د دې په خوا کښې ځینې نورې نومونې د غور، تامل، دقت، اندیښنې او پوښتنې وړ دي لکه په جلال آباد کښې«تکسي راني الفت» او « رهنمای معاملات الفت» په بغلان کښې« د الفت راډیو

جوړولو ورکشاپ» يا په کابل کښې«خشکه شوئي صداقت» او همدارنګه د ځينو نورو لويو ادبي علمي او ملي اشخاصو په نومونو نورې وړې موسسې او کار ځايونه به څه تناسب ولري؟

نو هيله من يو چې د تخلصونو په برخه کښې د اطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوي محترم وزارت جدي او مسؤلانه توجه وکړي او د موسسو او کار ځايونو په برخه کښې د افغانستان د علومو اکادمي د نومونو د ايښودلو هغه صلاحيت، رسمي او علمي واک چه پخوا پښتو ټولنې او تاريخ ټولنې درلود، عملي کړي.

ځکه چې دغه اکادمي د پخوانيو تاريخي اختصاصي اکادميو: پښتو ټولنې، تاريخ ټولنې، آريانا دائرة المعارف ټولنې، د لرغون پيژندنې مرکز، د کوشانينو د څيړنې مرکز، د پښتو څېړنو نړيوال مرکزاو ورته علمي څيړنيزو ادارو پر بنسټ جوړه شوې لويه عمومي علمي اکادمي ده او د هغو کارونو او وظيفو ادامه ورکونکې وارثه ده.

نوي ليکوالان او شاعران چې ځان ته تخلصونه ټاکي او هغه ښاغلي چې خپلو موسسو، ادارو يا کار ځايونو لپاره نومونه انتخابوي، هم بايد په خپله پوره هر اړخيز غور او دقت وکړي او هم د صلاحيت لرونکو ادارو او پوهانو مشورو ته غوږ کيږدي. د هيواد د خپرنيو ذريعو مسؤل چلونکي او مسلکي غړي دې هم لږ تر لږه خپل فرهنګي مسؤليت تر سره کړي.

هو! دموکراسي ده او آزادي ده. مګر ګډوډي، بې نظمي، بې سليقګي، او حتی بې ادبي ته خو بايد دموکراسي و نه وايو. د ټولو د خير، ښېګڼې، نيکمرغۍ او برياليتوبونو په هيله!

## خبرتيا او غوښتنه

د الفت ويب پاڼه «www.ulfat.de» په نظر کې لري چې د ارواښاد استاد ګل پا چا الفت ټول آثار او ليکنې په بشپړ ډول د انترنت له لارې محترمو لوستونکو ته وړاندې کړي. څرنګه چې د مرحوم الفت صاحب ټول نا چاپ شوي کتابونه، شعرونه، مضامين او اشعار تر اوسه زمونږ لاس ته ندي راغلي، نو د ټولو محترمو هيواد والو څخه چې د مرحوم الفت صاحب نا خپاره شوي کتابونه، شعرونه، مضامين او ليکنې د دوی سره موجود وي او د هغو د چاپولو حق هم يوازې د مرحوم الفت صاحب کورنی پورې اړه لري، په ډير احترام هيله کيږي چې دا کتابونه او ليکنې د مرحوم الفت صاحب کورنی ته په لاندنی پته راواستوي تر څو چې د انترنت له لارې يا د کتاب په ډول خپاره او د ټولو د استفادې وړ وګرځي.      په درناوی

د مرحوم استاد الفت د کورنی لخوا

د کورنی پته:

Familie Ulfat
Bulkersteig 18 A
45277 Essen
Germany